مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۱۲/۳۰

# غــزل

مکر، فریب، دروغ، دوکه شوله جامه د هر چا
کرکه، نفرت په خوله شعار دی ډمامه د هر چا

د بازاري ملا فتوې دي، ما دې نه وېروي
د جنګ د پاره په سر ایښي عمامه د هر چا

دا بې ضمیره د وطن د خلکو حال نه ګوري
د سولې کور ته جوړه شوې ډرامه د هر چا

ګرانه د وروړ وینه ده! سوله دومره نه ده ګرانه
ښه په هنر ده منل شوې خاتمه د هر چا

ای پسرلېه په سرو کښې سرې نه وینمه
نامه یې بائیله، غلامې شوله نامه د هر چا

مصطفی پسرلی
ډمامه ـ ډنډوره
27/12/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ